**ليکونکی** : ريچارد دی اولف (Richard D. Wolff).
**منبع اود خپريدو نيټه** : کونتر پنچ «2020-08-11».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .
-----------------------------[ 87 ]-----------------------------

# پانګوالي ولې ددموکراسي سره په دوامدار شخړه کي دي ؟

## Why capitalism is constant conflict with Demcracy ?




**Nathaniei St.clair عکس د**

پا نګوالي اقتصادی نظام تل د خپل پا ليسي په جريا ن کي په ټولنو کي د عمومی درای دحق د په ترلاسه کولو سره ستر ستونزه لري ، اکثرو پا نګوالو د شتمنو درای دحق دلا زيا ت پراخيد وسره هغو چي پا نګي لری داړودی مودی مقاومت کولو سره مخا لفت کوی يواځی دله ايزفشارچی له ټيټو ځواکونوڅخه چي په مکرر بڼی سره درای حق پراخه کړي ترڅوچي دعمومی رای ورکونی حق په دی ډول تر لاسه کړي اوهغه هم لږ ترلږه د قا نون په پيروی سره ، ا لبته چی پا نګوالو ترنن ورځی پوری دهرډول قا نونی اوغير قا نونی ميکا نيزمونود را مينځته کولو په مقا بل کي خنډونه رازيږولی دی تر څوچی دعمومی يا دعا مه درای ورکولو حق محدود کړي ، د هغو په مينځ کي چي د پا نګوا لی سا تنی ته ژ من دي دعمومی د رای د حق له پلی کيد و څخه د ير

ډاريږي ،**« ترامپ»** اودهغه جمهوريخواهان د کا ل (2020) ټولټا کنـي سره په ډارولو دهغه څخه په عمل کې نمونه برداری کوي .

ستونزه د پانګوالی له لومړني طبيعت څخه راپورته کيږي. پا نګوالو چې د سوداګريزې سوداګرۍ ملکيت لري اوکارکوي - د ډلې په توګه ګمارونکي - يو کوچنی ټولنيز اقليت دی.برعکس ،کارمندان اوددوی کورنۍ ټولنيزاکثريت دي. د کارګمارونکي اقليت په واضح ډول د هرتشبث د ننه کوچني اقتصاد باندې تسلط لري. د سرمايي په کاراوپه شرکتونه (کارپوريشنونو) کې ، لوی شريکان او د مد يره هيئت دوی غوره کوي او ټولې مهمې پريکړې د تصدۍ خا لص عا يد ويشلو په شمول.ددوی تصميم پوری ربط لری.

دوی پخپل پريکړې کې د ونډې لرونکو د ونډی د سود او د تا ديا تو په کڅوره کې داجرايوی ښه مديرانو په يادولو سره تخصيص خانګړي کوي لذا دهغوی عايد اوشتمنی د ټولني له مينځګړی يا ميا نګين څخه په چټکي را ټوليږي ، په خصوصی بڼی سا تل شوی پا نګوالي تصديو کي ددوی مالکين او لوړ پوړی مد يران ورته چلند ترسره کوی اود ورته امتيازاتو څخه برخمن کيږي ، عا يد او ويشل شوی نا برابر شتمنی په مد رنو يا نوی ټولنوکي عمد تاً د پا نګوالي د سا زما ن له داخلی تصد يو څخه سرچينه اخلي. وروسته ما لکين او د دوی لوړپوړي مد يران له خپل نا منا سب شتمنی څخه دلوی اقتصاد د کنترولولو اوهغه ته په شکل ورکولو اود هغه پوری داړينی پا ليسی څخه ګټه پورته کوی .

په دي صورت ، دعمومی رای د حق په لرلو سره دا زمينه ترلاسه کيږي چي کارمندان يا استخدام شوی وشی کړي د سرمايه داری دزيربنا يی اقتصا دی نا برابری په موجود يت سره دسيا سی وسايلو په کارولو سره هغه باطل اويا خنثی کړی يعنی هغه وخت د مثا ل په بڼه : کارمندان کولی شی هغه سيا ستوال وټاکي کوم چي هغوی دپا نګوالي قا نونی ، اجرايوی اوقضا يی پريکړي اود سرما يه داری ا قتصا دی نتيجی معکوسه کړي - ما ليه ، لږ ترلږه اُجرت او ددولت مصارفاتو پوری قوانين ته په کتو عا يد اوشتمنی کولی شی چی د مختلفو لارو په نظر کی نيولو سره له سره وويشی، نو که له سره ويش په دی بڼی تر سره نشي کوم چی اکثريت پريکړی وکړي چی دغه غير قابل قبول نابرابری ته بايد دپای ټکي کيښودل شی نو دوی کولی شی چي په دی برخه کي نور ګا مونه اوچت کړي د مثا ل په بڼه : اکثريت کولی شي دانتقالی شرکتونو داخلی سازما نونو ته د پانګوالي له سلسله مراتبو څخه د موکراتيک تعا ونونو ته رای ورکړي اود ا ځکه چي دشرکتونو خا لص عايد وروسته له هغه دسرمايه داری دسلسه مراتب دلوړپوړو اقليتونو پواسطه سره نه ويشل کيږي بلکه دهغه پرځای دټولو کارمندانو

د دموکراتیک پریکړي هریو یو دیوراي په ورکولو سره ویشل کیږي اود سرما یه داری د معمولی نابرابری ډ یری کچي به ورکي شي .

د سرما یه داری نه ختمید ونکي او دوامدار سیا سي ستونزه په بهترین بنی سره دادي چی دتولو اکثریت کارمندا نو د سیا سی تشکیلات مخه ونیسي ، نو سرمایه داری دخپل ځانګړي تکراری ستونزمن دورو کی ( مرحلوی پیښی ، جنګونه ، د ا نحصاری اود رقابتی صنعتونو ترمینځ شخړي او پا ند یمی ) د هغه سیا سی مشکل په شد ت سره پراخیږي ِ نو په دي صورت دا به ډیر غوره وي چی دکارمندانو سیاسی اکثریت په بشپړ ډول دپانګوالي له مینځه وړو څخه مخنیوی وشي او ټولنه بد یل ا قتصا دی سیستم ته واړوی .

دسرمایه داری دسیا سی ستونزی دحل یواځنی لاره دا دی چی دپانګوالی دغه کوچنی ټولنیز اقلیتونه یا پا نګوالان با ید چي د نورو ټولنیزو ډلو سره ا تحاد جوړ کړي اودا را جوړ شوی ایتلافونه با ید دومره قوی وی چي د کارمندانو د هر ډول ګذار ، سپکاوی اود تخریب مخه ونیسی او پری نیږدی چی دسرمایه داری ممکنه ګټي یا ددی سیستم را پا تي نها دونه د ګواښ سره مخا مخ شي یا یی وګواښوي ، لذا هر څومره چي دسرمایه داري. اقلیتونه کوچني او کمزوره اووسی دهغوی کلیدی اتحاد او تشکیل پر پوځ باندی ولاوي ، دنړي په اکثرو برخو کي دسرمایه داری نظام دیو نظا می دیکتاتور په واسطه سره سا تل کیږي کوم چي هغه هر ډول ملی نوی رامینځته شوی غورځنګونه چي دسرمایه داری پر ضد دکا رمندانو اویا دنه سرمایه داری په قوتونو کی راپیداشي ، له مینځه یی وړي حتی چیری چي که دسرمایه دارانو نسبتاً لوی اقلیت هم تثبیت شوی وي کوم چي چیری ددوی ټولنیز واکمنی ګواښل وي ، ویل کیږی چی د ضد سرما یه داری غورځنګ له ښکته څخه د یو نظا می د یکتا تور سره ایتلاف ممکن دی چي دبقا اخری میکانیزم اوسي ، نوکله چي داسي اتحادیي دسرمایه دارانو سره په دولتي دستګاه کي خپل دقدرت اخری څوکي ته ورسیږی ، فا شیسم را مینځته کیږي .

د سرما یه داری حرکت اویا تحرک د نه تشد ید ی شیبو په مها ل کي کوم وخت چي د ټولنیز د را نیږدی پیدا شوی (قریب الوقوع) ضد سرمایه داری تحرکا تو پواسطه سره ونه ګواښل شي نو دسرمایداری هغه اصلی اواساسی ، سیاسی ستونزه باقي پا تی کیږي ، نو له دی امله سرمایه داران با ید دکا رمندانو لویه برخه له هغه کارونو څخه کوم چي د هغه پا یلي د سرما یه داری ا قتصا دی سیستم اوبیا په ځا نګړي بنه عا ید اوشتمنی ، ځواک او کلتورځانګړی بنی سره ویشی منع کړي نو ددی منظور په نظرکی نیولو سره سرمایه داران غواړي چي دکارمندانو له طبقی څخه دهغه څو برخي له هغو څخه بیل اوسره یو موټی کړي نو دوی معمولاٌ د سیا سی ګوندونو سره کا رکوي اوله دی لاری سره اتحاد کوي .

مارکسیست لوی تیوریسن **انتونیوګرتمشی** (Antonio Gramsci) په تعبیر سره ،

پانګوالو خپل سیا سی متحد ګوند  پکار اچوي  چي د کارمندانو د طبقي  له یو څو برخي اودامکان په صورت د سرمایه داری داقتصاد د حوزي یا د تسلط څخه  دباندي  ځواکونو سره یو «سیا سی بلاک» جوړکړي کوم چي  دغه را جوړ کړي « سیا سی بلاک»  با ید په کافی اندازي سره ځواکمن اوسي ترڅوچي د سرمایه داري ضد اهد اف اود کا رګری طبقي جنبش خنثی کړي او په  حقیقت  کی دغه «سیا سی بلاک » با ید په ټولنه کي دپا نګوالی لپاره حکومت وکړي اوهم هڅه وکړي چي دخپل هژموني لپاره  ټولنیز رسنی «میدیا»  کنترول  کړي ، په ا نتخا با تو کی بری تر لاسه کړي اوپه پارلمان کی  د خپل اکثریت فرکسیون  رامینځته کړي او په تعلمی موسسا تو کی  خپل اید یولوژی  په پراخه بڼی سره خپور  کړي  د سرما یه داری  تسلط به بیا د پا نګوالي  ضد هڅونه تنظیم  غیر سازما نی کړي  ترڅوچي هغوی ونشی کړي  ټولنیز حرک مینځته راوړي  چی دسرمایه داری دواکمنی  ننګونه وکړي.

«**ترامپ**» په اوسني شرا یطوکي دسرما یه داری د هژموني(وړاندی  والی)  د سا تلو لپاره دغه انخورونه ښیی اوهغه داچي  **لمړي** د پیسو  په زیا ت اسراف او لګښت  سره دپوځ جشن نیسی یعنی د پوځ ستا ینه  د مراسمو اودزیا تو پیسو  په مصرف سره ترسره کوی ،**دوهم** :هغه  دلویو شرکتونو اود شتمنو خلکو د کا ل (2017)  ما لیا ت را ټیټ کړ سره له دی چي دوی څولسیزه ، پخپل مینځ کی د شتمنیو د بیا له سره ویش   څخه  خوند اخیستی وه **.دریم** :هغه دسرمایه دارانو، لویو شرکتونو اودبازاردراکړی ورکړی دڅارنی کنترول  او د دوامدار نظارت څخه ترشا کیږي   یعنی چی مقررات  ته پا م  نه اړوی یا چي  مقررات زدایی کوی – هغه خپل پلویا نو ته دخپل حکومت د مسولیت  دلوړ ا همیت ښودلو لپا ره  په بد نا می سره سنتی اتحاد یو ته دکارمندانو دطبقی دیوی جلاشوی برخی سره وده ورکوي ، دجمهوری غوښتونکي ګوندچي «ترامپ» ته په ارث پاتی شو  او هغه واک ترلاسه کړ اوس دا سی را ښکا ری  چی نوموړی ګوند  د افرصت دلاسه ورکړی، دوی یعنی جمهوریخواهان اوس  کمزور شوی دي   او ډیر  زیا ت  سیا سی خطرناک زیا نونو ورته اړول شوی  نو دوی با ید  چی له سره ملا راسته کړی  یا چي بیا له سره پیا وړی شی  که نه، نو ، دجمهوری غوښتونکي ګوند نور نشی کولی  چی  د پا نګوالو لپاره  وسیله شي ، ترڅو چي په منظم ډول  دهژمونیک بلاک  وسا تی ، نو په دي ډول ددی احتمال لیری نه دی چي دغه زوړ یا قد یمی ګوند (GOP) له مینځه  لاړ نشی   اود پا نګوالو لپاره د موکرات ګوند سره لاپسی  ټینیک اومتحد کړی ترڅو چي دوی «سیاسی بلاک» سره یوځای شي  اوله هغه څخه ګټه تر لاسه کړي .

په تاریخ کي د متحده ایالاتو  پا نګوالان  څو څو ځله  ددوه لویو ګوندونو په مینځ کي هژمونیک عا ملان یا استا ذی  ته بد لون  ورکړي  لکه  همغسی  چي  جمهوریخواها نو اجازه ورکړ  چي دهغوی  هغه سنتی اتحادیی کوم چي دکارمندانو دیوی برڅی سره جوړ کړي وه له مینځه دی لاړ شي  اوپه دی شا ن  **« دونا لد ترامپ»**  ته  لاره  خلاصه کړ،

د موکرات ګوند هم دخپلو متحدانو سره همد ا ورته کا ر تر سره کړ کوم چې په دی کار سره لاره «**برنی سند ر** » ، **ا لکسا ند را اوکا سیو کورتیز** ( Alexandria Ocasio Cortez) مترقي اوپه حال دودی څواکونوته لاره خلاصه کړ .« ترامپ» دجمهوریخواه ګوند دبیا رغونی اود بیا غښتلی کیدو لپاره لستوني یی پورته کړ اودامریکا د سرمایه دارانو سره د هژمونیک متحد په عنوان ملا را سیخه کړ چي په دي صورت سره هغه باید زیا تی پیسی (مبلغ) مسیحی بنیادګرایان ، ځا نګړی سپین پوستو لوړ غوښتنوکی ، دکډوالو ضد دلي تپلی ، شونیستا نو ( پردي ضد عظمت طلبا نو ) د قا نون اود نظم پیروانو په شمول دسلاح او دتوپک مینه والو اودقد یمی جمهوریخواه د ګوند پخوانی دوستدارانو ته ورکړي نو په همدی شان هغه څنګه دغه نهادونه له مینځه ویوړ اویا هغو ته ماتي ورکړ. په تاریخی دلایلو سره « **کلنتون** » ، « **اوبا ما** » او د قد یمی د موکرات دګوند ایجا دونکو کوم چې لاتراوسه ژوندی پا تی دي له دی نه چي یو څه پام خپل کارمندانو (کارګران ، اتحادیی ، افریقایی تبار امریکایان ، لاتینیان ، ښځو ، زده کونکو ، اکا دمسیا نا نو اوبیکاران ) ته واړوی هڅه یی وکړ چي پرګوند باندی خپل کنترول وسا تی ، **سندرز** او مترقی په حال د ودی قوتونو ته یی ماتی ورکړی یا دهغوی ننګونه یی بنده کړ چی د کا ل (2016) په انتخا با تو کی ما تی وخوړله او جهمهریخواهانو مشهوره رای ترلاسه کړ .

سرمایه داران غوره ګڼی چي جمهوری غوښتونکی د خپل هژمونک پارتینر یا د ملګری په توګه وکاروي اودا ځکه چي جمهوری غوښتونکي ډیر داعتبار وړ اوپه منظم ډول هغه څه وړاندي کوي چی د دموکراتا نو په پرتله پانګوالي غواړي ، مګر که او کله چي دجمهوری غوښتونکي « ایتلافی بلاک » د هژمونیک شریک په حیث کمزوری شي یا په بل ډول فعا لیت وکړي ، نو دمتحده ایالاتو سرمایه داران دموکراتانو خواته اوړي او دموکراتان لړ تر لږه منا سبه پا لیسی به خپله کړي او هغه هم لږ ترلږه دیو څه وخت لپاره ، چیری دوی که دهغه په بد ل کي یو قوی هژمونیک شریک ترلاسه کړي نو آیا **ددونا لد ترامپ** اتحا دیی د کارګر طبقی دیوی برخي سره دکمزوری اود انحلال په مفهوم دي ؟ چی د امریکي سرما یه داران د هغه پرځای د موکراتو ښاغلو [ **با یډ ن** ، **کلنتون** او **اوبا ما** ] سره ملګرتیا کوی . اوحتی چی دلزوم په صورت کی غواړی د پرمختګ کونکو (مترقیانو) سره هم ملګری شی لکه څنګه چي په (1930) لسیزه کی فرانکلین (Franklin Delano Roosvelt) سره وکړ .

«ترامپ» واریه وارغوښتلی چي خپل اتحاد ددریمی برخي څخه لاد زیات امریکایی کارمندانوسره کوم چي هغوی د(ترامپ) درژیم څخه ملاتړ کوي تینګ وسا تي اودا ورته مهم نه دی کوم چی هغوی کله هم په سزا محکوم شوی یا داچي هغوی تخلف کړی اویا که نه ؟ هغه ته مهم دا دی چي باید اکثر سرمایه داران دهغه په څنګ اوبغل کی سره

نژدی اوسي ، له دی نه ها خوا ، هغه یعنی «ترامپ» ډیر جمهوریخواه پا نګوالانو لمړیتوب ورکوي چي دهغه سره نژدی متحد اوسي ،دهغه رژیم په شد ت سره له نظامی اوشرکتی ګټی یا دسودپه ترلاسه کولوڅخه ملاتړکوي اماد«ترامپ» او دجمهوریخواهانو لویه پا تي او ناکا مي د (کرونا) دویروس دپا ند یمی څخه درپیدا شوی نارو غیو نه مهار کید و اود سرما یه داری د ا قتصا د د بحران څخه د نه مخنیوی له امله دي . کوم چی دا دواړه ستونزی درای ورکونکو احسا س او تمایل د موکراتا نو ته دانتخاب کیدو لاره اواره کړي دي ، نو په دي صورت «ترامپ» او جمهوریخواهان ددی ناکا میو څخه په انکا رسره دخلکو پام په بل موضوع باندی متمرکز کوي . د دموکراتیک ګوند رامینځته کید ل یا را مخکی کیدل دسرمایه دارانو داطمینان ا ود قانع کیدو لپاره په دي بنیاد چي د (بایدن ) رژیم به وشی کړی چي دغه را پیدا شوی (پاندیمی) به له مینځه ویسی او امریکا به له نسکورید وڅخه وژغوري په یو موضوع با ندي اغوښتي دي اودګن شمیر امریکا یي سرما یه دارانو ملاتړ خپله کړي اویوائی به په نیمګړتیا کي خپل نابرابری اصلاح کړي .

د مترقی اویا دمخکښ افرادو لپاره ددموکرات دګوند په دننه اوپه دي باندي کي یولوی انتخاب له مینځه ځي ،کوم چي ډیري دهغوي دااحسا س کړي دي ،چي له یوطرفه ممکن دغه مخکښ مترقیا ن د سرمایه دارانو په وړاندي د هژمونیک ډیر ستر متحد ینو په عنوان ځواک اوقدرت به تر لاسه کړي او هغه هم په میړانه اوجُرت د سنتی دموکراتیک نهادونو یا د تا سیسا تو په وړاندي کولو سره ، داهغه څه دي چي «ترامپ» دجمهوری غوښتونکي ګوند دود یز جوړښت به بیځایه کړي اوله بلی خوا څخه مخکښنو مترقیان به ددوی دخپلی ودی پخوا به وهڅول شي ترڅو ددوه ګونو بد یلونو څخه چي د پا نګوالي واکمنی سا تي هغه ما ت کړي اوپرځای یی دغه مخکښان کولی شي د متحده ایالاتو آزاد سییا ستونه وڅیړي ترڅو چي عام وګړي په آزادنه ډول سره په انتخا با تو کی آزاد ټاکني وکړي . دپانګوالي ضد اوسیوسیا لیست ګوند دوه هغه ستر ستنی یا پایی دی چی د پانګوالي پلو ګوندونو سره سیا لي کوي یا چي ډغری وهي .

د سرما یه داری سیا سی ستونزه ذاتاً او سرشتاً دهغه دغیردموکراتیک چلند له وجهی داقلی کارفرمایا نو اود اکثری کارمندانو (کارګرانو) د تغیر او د بد لون پر سر او دهغه ساختا ری اویا جوړښتی تضا دونه دعمومی حق راي سره مخامخ دی ، بی حد وحصر سیا سی ما نوری د (هژمونیک بلاک) په شاوخواکي د کا رمند ا نو دځنو جدا کړ شوی برخو په ځای ناستی (جاګزینی) کولو سره سرمایه داری تضا دونه ته اجازه ورکول دی ، نو له دی امله په پای کي دغه تضا دونه د هژمونیک دما نورو له ظرفیت څخه دهغو د کنترول اود مهار کولو څخه یو څه مخکي ځي ، یوه « پاند یمی» بیما ری دیو ستر اقتصادی بحران اوسقوط سره ممکن ددی موجب وګرځی چي مخکښ او مترقي افراد وشی کولای دغه ستونزی ته توقف ورکړي د متحده ایالاتو سیا ستونو ته تغیر

*ورکړي او تیولنیز اوږد مهاله تحولاتو ته نوی جا می ور واغوندي یا هغه ته تحقق ورکړي .*

**--------------------------------- پـه درنـا وی «19-08-2020»**